عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۱۱ جون ۲۰۲۵
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**نهه اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**په افغانستان کې وضعیت**

**د امنیت شورا**
**اتیایم کال**

# په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی: پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۷۴/۹ پربکړه لیک او د امنیت شورا ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) پربکړه لیک پر بنسټ ترتیب شوي چې په هغه کې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې، د ملې کچې په ګډون، په افغانستان کې د وضعیت او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه راپور ورکړي.

۲. د ۲۰۲۵ کال د د فبروري د ۲۱ نېټې د راپور(A/79/797-S/2025/109) له خپریدو راهیسې دغه راپور د سیاسي، بشري، او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند تحولات

۳. د برحاله چارواکو ترمنځ د خپلمنځي کشمکش په اړه د رسنیو د راپورونو پرمهال لوړ پوړو برحاله چارواکو په ګڼو عامه بیانیو کې په ډاګه کړه چې د نظر د اختلاف شتون په تحریک کې د نه یووالي په مانا نه دی. د تصویب شوې ملي بودجې په اړه له راپورونو پرته مالي کال د مارچ پر ۲۰ نېټه پیل شو. له دې سره سره د برحاله وزارتونو ترمنځ د کارمندانو تنقیصات او د معاشاتو تاخیر موجود و. په داسې حال کې چې د نجونو او ښځو پر مخ متوسطه ښوونځي او لوړې زده کړې تړلې وې، نوي ښوونیز کال پیل شو. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان د ښاري پراختیا او کور جوړونې پر وزارت د ځانمرګي برید په ګډون د یو شمېر بریدونو د ترسره کولو ادعا کړې په داسې حال کې چې ګڼ شمېر مخالفو وسله والو ډلو هم د بریدونو د ترسره کولو ادعا کړې. خو نه هم د عراق او شام اسلامي دولت – خراسان او نه هم مخالفو وسله والو ډلو د طالبانو ځواک او پر جغرافیا د هغوی حاکمیت ګواښلی. د مې میاشتې تر نیمه یې پورې، د ۲۰۲۵ کال لپاره افغانستان د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان چې له اټکل شویو ۲۲.۹ میلیونو څخه ۱۶.۸ میلیونه اړمن وګړي هدف ګرځوي، د اړتیا وړ ۲.۴۲ بیلیونه امریکایي ډالرو څخه یوازې ۱۵.۷ سلنه ترلاسه کړي. د فبروري تر ۱۵ نېټې پورې د ۲۰۲۳-۲۰۲۵ لپاره د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ستراتیژیک کاري چوکاټ د اړتیا وړ ۲.۷۸ بیلیونه امریکایي ډالرو څخه ۲۲ سلنه ترلاسه کړي. د اپریل ۲۳ نېټه، نوموړي ستراتیژیک کاري چوکاټ د ۲۰۲۷ کال تر ډسمبر پورې تمدید شو.

#### الف. سیاسي تحولات

۴.	د راپور ورکولو په موده کې د طالبانو مشر هبت الله اخندزاده په کندهار کې د برحاله کابينې له چارواکو سره کليدي ناستې ترسره کړي. د مارچ پر ۲۸ نېټه، د برحاله دفاع وزير، محمد يعقوب، برحاله کورنيو چارو وزير سراج الدين حقاني، برحاله د استخباراتو د لوي رياست رئيس عبد الحق وثيق او اړوندو مرستيال وزيرانو په ګډون له برحاله امنيتي منسوبينو سره ناسته ترسره کړه. د برحاله چارواکو د بيانيو سره سم، په کندهار کې د غونډې پرمهال توحيد شوی امنيتي راپور وکتل شو او د عملياتي پلان جوړونې، ستراتيژيکو لومړيتوبونو او په امنيتي سکتور کې د سازماني پياوړتيا په تړاو لارښوونې خپرې شوې.

۵.	د مارچ پر ۳۰ نېټه، د اختر په خطبه کې د طالبانو مشر ګڼ شمېر پيغامونه خپاره کړل چې خپل مرکزي واک يې بيا تاييد کړ، د خپلې رهبرۍ لپاره يې د بيعت غوښتنه کوله، ولسواکي يې ردوله او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون پر تطبيق له تمرکز سره يې د شريعت د بشپړ تطبيق غوښتنه کوله. د اپريل پر ۱۰ نېټه، يوناما د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون د تطبيق د اغيز په اړه يو راپور خپور کړ.[1] د قانون له تطبيق راهيسې د شپږو مياشتو په تېريدو سره، يوناما د طالبانو د مشرتابه له خوا د دې هوډ ملاحظه کړی څو ډاډمن کړي چې د سوچه اسلامي نظام ليدلوری په ټول هيواد کې تطبيق شوی، پر افغان پرسونلو او خصوصي فضاوو، عامه ځايونو، روغتيا، لباس، سفر، کاروبار، روغتيا، زده کړو او رسنيو سکتورونو ته د ښځو او نجونو پر لاس رسي د زيات شويو محدوديتونو په ګډون.

۶.	د مارچ په لومړيو کې، د برحاله چارواکو ترمنځ د داخلي کشمکشونو په اړه د رسنيزو راپورونو پرمهال د برحاله چارواکو وياند ومنله چې د برحاله چارواکو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی. هغه په مشخص ډول د نجونو د زده کړو د موضوع پر حساسيت اعتراف وکړ او په ډاګه يې کړه چې اختلاف نه ملي يووالي ګواښلي او نه يې د برحاله چارواکو په وړاندې کوم اپوزيسيون رامنځ ته کړی. هغه د مارچ پر ۵ نېټه په يوه تلويزيوني مرکه کې له هيواد څخه د برحاله کورنيو چارو وزير سراج الدين حقاني په ګډون د يو شمير برحاله چارواکو د اوږدې مودې غيابت موضوع ياده کړه. په اپريل کې، برحاله د کورنيو چارو وزير له دوه نيم مياشت غيابت وروسته د خلکو په منځ کې راڅرګند شو، چې د اپريل پر ۱۲ نېټه يې د کډوالو او بيرته راستنيدوکو چارو له وزير عبد الکبير او نورو برحاله چارواکو سره ليدنه وکړه.

۷.	د برحاله ادارو نوي مالي کال د تصويب شوې ملي بودجې په اړه د راپور ورکولو يا خپرولو پرته د مارچ پر ۲۰ نېټه پيل شو. تر دې لږ وروسته، برحاله چارواکو په ټولو اداراتو کې د کارمندانو تنقيصات او د معاشاتو تاخير پيل کړ. په دغو اقداماتو کې د ښوونې په سکتور کې د کارمندانو تر ۳۰ سلنې تنقيصات شامل و، د روغتيا د سکتور لپاره له ورته پلانونو سره. د اپريل پر ۱۳ نېټه، د راپورونو له مخې د طالبانو مشر د امنيتي سکتور په پرسونلو کې د ۲۰ سلنه کموالی امر وکړ. د اپريل پر ۲۰ نېټه، برحاله د دفاع وزير برحاله د امنيت او تصفيې کميسيون مشري وکړه چيرې چې د کارمندانو د تنقيصاتو پر مرحله ييزه تګلار توافق ترسره شو.

۸.	برحاله چارواکو د رهبري په منصبونو کې طالبانو ته د ژمنو کسانو – ټول سړي – ګمارنه او ادلون بدلون جاري ساتلی. په ملي کچه په ګمارنو کې په وزارت خانو کې د پنځو برحاله مرستيال وزيرانو او دوه معينانو ټاکنې شاملې دي. د اپريل پر ۳۰ نېټه، رسنيو د برحاله رئيس الوزراء د سياسي مرستيال د دفتر د منحل کېدو او د "د سپيدار ماڼۍ د ادغام رياست" په نامه د يوې نوي برحاله ادارې د رامنځ ته کيدو په اړه د طالبانو د مشر د حکم په اړه خبر ورکړ. برحاله سياسي کميسيون په جنوري مياشت کې د کډوالو او بيرته راستنيدونکو د چارو د وزير په څېر د رئيس الوزراء د پخواني سياسي مرستيال له ټاکل کيدو راهيسې کومه ناسته نه ده ترسره کړې. په ځايي ګمارنو کې د ۲۶ ولسوالانو، د اوو برحاله ولايتي ښاروالانو، د شپږو برحاله ولايتي امنيه قوماندانانو، درې د استخباراتو د لوي رياست د ولايتي د استخباراتو د رئيسانو او لږ تر لږه د ولايتي رياستونو د رئيسانو ټاکنې شاملې دي. د فبروري پر ۱۸ نېټه، په ۱۴ ولايتونو کې د جهادي مدرسو ۱۴ رئيسان بدل شوي.

[1] راپور دلته د لاس رسی وړ دی: https://unama.unmissions.org/report-implementation-enforcement-and-impact-pvpv-law-afghanistan/.

۹. برحاله چارواکو په ۱۱ ولایتونو کې د دوي له خوا په راجستر شویو مدرسو کې د فراغت ۱۷ مراسم ترسره کړل. د راپورونو له مخې ۵۳۷ سړي او ۶ ښځې د برحاله اداري له خوا له راجستر شویو مدرسو څخه فارغ شوي. د راپورونو د معلوماتو له مخې لوړ پوړي برحاله چارواکي له مدرسو څخه د فراغت په مراسمو کې له خلکو په ځانګړي ډول له ځوانانو څخه د شریعت او ملي یووالي د رعایتولو غوښتنه کوي. په عین موده کې، یوه مدرسه پرانستل شوې، راپورونه په ډاګه کوي چې یو شمېر برحاله والیانو لکه په بامیان، دایکندي، فراه، غزني او لوګر ولایتونو کې له خلکو غوښتي چې د مدرسې د ودانیو په جوړولو کې په مالي ډول برخه واخلي.

۱۰. د فبروري له ۲۲ څخه د می تر ۲۲ پورې، په کابل کې د ملکي خدمتونو د متقاعدینو له خوا شاوخوا ۱۲ لاریونونه ترسره شوي چې د خپل تقاعد د تادیاتو د بېرته پیل غوښتنه یې کوله. زیات شمېر ګډون والو یې له ۲۰۲۱ راهیسې له کوم منظم عاید پرته د اړینو اړتیاوو په تامین کې د ورپېښو ستونزو په یادولو سره د تقاعد د تادیاتو په ورکړه کې د دوامدار تاخیر په اړه اندېښنې څرګندې کړې.

۱۱. یوناما له هغو نارینه مدافع وکیلانو سره تعامل کړی چا چې مراجعینو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې د ورپېښو ننګونو یادونه کړې. په کندهار ولایت کې مدافع وکیلانو په ډاګه کړې چې د طالبانو د بېرته راتګ راهیسې د مالي ستونزو، په توقیف کې خلکو ته د لاسرسي د محدودیتونو او حقوقي ابهام له امله د هغوي د خدمتونو تقاضا راکمه شوې. په فراه او هرات ولایتونو کې مدافع وکیلانو ملاحظه کړې چې برحاله قاضیان د متهمینو د محاکمې لپاره د اقرار بیانیو ته رجوع کوي چې دغه کار د وکیلانو اړوندتوب او نقش راکم کړی. په هرات ولایت کې مدافع وکیلانو پر برحاله قاضیانو د هغو مدافع وکیلانو د لومړیتوب بندي کولو له امله نیوکې کړي چا چې یوازې د طالبانو له راتګ را پدېخوا کار پیل کړی. په ورته وخت کې د مارچ پر ۱ نېټه، برحاله د عدلیې وزارت اعلان وکړ چې د ۴۱۹ نارینه نوماندانو له جملې ۲۸۸ هغه یې د مدافع وکیل کیدو په ازموینه کې بریالي شوي چې د فبروري پر ۲۳ نېټه ترسره شوې.

۱۲. برحاله چارواکو خبر ورکړی چې د فبروري له ۲۲ څخه د می تر ۲۲ پورې، په ۱۵ ولایتونو کې د کورنیو شخړو او ټولنیزو موضوعاتو، دغه راز د ځمکې او اوبو د حقونو د مسلو په ګډون ۴۳ ځایي شخړې د ځایي قومي مشرانو، دیني علماؤو او برحاله چارواکو په منځګړیتوب حل شوي. ځایي سرچینو ادعا کړې چې ټولې ښکیلې خواوې د شخړو د حل له پروسو څخه خوښې او راضي وې.

۱۳. لوړ پوړو برحاله چارواکو د کابل په داخل او له کابل څخه بهر د عامه پوهاوي ناستې ترسره کړې. د اپریل له نیمه یې څخه د می تر لومړیو پورې، برحاله قاضي القضات عبد الحکیم حقاني په لویدیځو او جنوبي ولایتونو کې له ځایي چارواکو سره لیدنې ترسره کړې چې د برحاله محاکمو او برحاله چارواکو له لارې یې د شریعت د تطبیق لپاره مدافعه کوله. د اپریل له نیمه یې تر پای پورې، د رئیس الوزراء د اداري چارو مرستیال سلام حنفي د بیرته راستنیدونکو د وضعیت د ارزونې په موخه له ختیځو او شمالي ولایتونو څخه لیدنه ترسره کړه.

۱۴. د فبروري له ۲۲ د می تر ۲۲ پورې، د یوناما ساحوي دفترونو د مدني ټولنې، قومي مشرانو، ژورنالستانو، متشبثینو، ځوانانو او ښځو له مدافعینو سره ۱۱۵ ناستې تسهیل کړې. ویناوالو د عصري علومو، د ځوانانو او تیر حکومت د کارمندانو لپاره د استخدام د فرصتونو، روغتیايي اسانتیاوو، خړوبونې او کرنې په ګډون د ملکي فضا د ساتلو پر اړتیا او د نارینه او ښځینه وو لپاره د زده کړو پر اهمیت ټینګار وکړ. ځوانانو په ځانګړي ډول د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون د تطبیق په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه، کوم چې د دوي په وینا د زیات څار او د هغوي د اقتصادي سخت وضعیت، بې روزګاري او د رواني روغتیايي موضوعاتو لامل شوی.

۱۵. د ولسواک افغانستان لپاره د ویانا پروسې په پنځم کنفرانس د فبروري پر ۱۸ او ۱۹ نېټه په ویانا کې او د فبروري پر ۲۴ او ۲۵ نېټه د هرات امنیتي ډیالوګ دولسمه ناسته په ماډرید کې د مخالفو سیاسي ځېرو له خوا ترسره شول. د اپریل پر ۲۲

نېټه د ملي مقاومت جبهې، د افغانستان د آزادي جبهې او د اسلامي جمعیت سیاسي ګوند د افغانستان د نجات له ملي شورا څخه جلا کیدل اعلان کړل کومه چې د ۲۰۲۴ کال په ډسمبر کې د ۳۲ سیاسي ګوندونو له خوا جوړه شوې.

۱۶. د مارچ پر ۲۰ نېټه د افغانستان د پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو د ځانګړي استازي په ملتیا د بندیانو په چارو کې د متحده ایالاتو د حکومت ځانګړی استازي ادم بوهلر په مشرۍ د امریکا د متحده ایالاتو یوه پلاوي په کابل کې د برحاله بهرنیو چارو له وزیر امیر خان متقي سره ولیدل. د برحاله بهرنیو چارو وزارت له خوا د اعلامیې د معلوماتو له مخې، خبرې اترې پر دوه اړخیزو اړیکو، د بندیانو پر خوشې کولو او په متحده ایالاتو کې د میشتو افغانانو لپاره پر قونسلي خدمتونو متمرکزې وې. د مارچ پر ۲۰ نېټه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مارکو روبینو په یوه مطبوعاتي اعلامیه کې اعلان وکړ چې د جورج ګلیزمن د امریکا یو تبعه په افغانستان کې له دوه کلن بند وروسته خوشې شو. د مارچ پر ۲۹ نېټه، د قطر په منځګړیتوب د متحده ایالاتو پخواني استازي د فای هال په نامه د بل امریکایي تبعه د خوشې کیدو خبر ورکړ. د مارچ پر ۲۲ نېټه د متحده ایالاتو د حکومت د ویب پاڼو د معلوماتو له مخې متحده ایالاتو پر برحاله کورنیو چارو وزیر او دوه نورو لوړ پوړو طالب چارواکي اېښودل شوې جایزې لرې کړې.

۱۷. د اپریل پر ۱۷ نېټه، د روسیې فدراتیف د بهرنیو چارو وزارت د تروریستي سازمانونو له نوملړ څخه د طالبانو د لرې کولو په اړه یوه مطبوعاتي اعلامیه خپاره کړه، چې د روسیې فدراتیف د ستري محکمي د عین نیټې د پریکړې منعکس کوونکې ده. په مطبوعاتي اعلامیه کې په ډاګه شوې چې د سترې محکمې پریکړه د افرادو او له طالبانو او دغه راز له نورو ډلو او ادارو سره د تړلو حقوقي نهادونو په وړاندې د امنیت شورا د بندیزونو د رژیم د رعایتولو په تړاو د روسیې فدراسیون په بین المللي ژمنو کې بدلون نه راولي.

۱۸. د امنیت شورا د ۲۶۷۹ (۲۰۲۳) (S/2023/856, annex) پریکړه لیک له مخې په خپلواکه ارزونه کې د ځای شویو سپارښتنو، د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو په درېیمه ناسته کې چې په ۲۰۲۴ کال په دوحه کې ترسره شوه د مباحثو، او په تعقیب یې له نشه یي توکو سره د مبارزې او خصوصي سکتور په اړه د دوه کاري ګروپونو پیل چې هدف یې د افغان وګړو د بنسټیزو اړتیاوو ته رسیدګي او د باور جوړونې د تدابیرو په ګوته کول و، د ملګرو ملتونو دار الانشاء او یوناما د نړیوالې ټولنې او برحاله چارواکو ترمنځه د یوه منسجم، همغږي او ګڼ اړخیز تعامل لپاره د یوې سیاسي لار نقشې د مخته وړلو په موخه له افغانانو او نړیوالو شریکباڼو سره خپل تعامل جاري ساتلی.

**ب. امنیت**

۱۹. د ۲۰۲۵ کال د فبروري له لومړۍ نېټې څخه د اپریل تر ۳۰ پورې، ملګرو ملتونو د خوندیتابه او امنیتي پېښو اړوند ۲۲۹۹ راپورونه ثبت کړي چې په ۲۰۲۴ کې د ورته مودې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د غلا ۱۷۵ پېښې رامنځ ته شوي چې په ۲۰۲۴ کې د ورته مودې په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

۲۰. د ۲۰۲۵ کال د فبروري له لومړۍ نېټې څخه د اپریل تر ۳۰ پورې، مخالفو وسله والو د طالبانو تر حاکمیت لاندې ملي جغرافیا ته کومه د پام وړ ننګونه نه ده رامنځ ته کړې. د ملي مقاومت جبهې او د افغانستان د آزادۍ جبهې په ترتیب سره د ۵۶ او ۱۶ بریدونو د ترسره کولو ادعا کړې. د افغانستان د آزادۍ غورځنګ د دریو بریدونو ادعا کړې چې ټول یې په اپریل کې ترسره شوي. نور ۱۱ بریدونه د کوم مشخص لوري له ادعا پرته پاتې دي. درې تایید شوي بریدونه چې برحاله د کورنیو چارو وزارت یې په کابل، د نجراب ولسوالۍ مرکز یې په کاپیسا او د بګرام هوايي ډګر یې په پروان کې په نښه کړي وو، د نا تایید شوي شمېر مرګ ژوبلې لامل شوي. د افغانستان د آزادۍ جبهه یوازینۍ وسله واله مخالفه ډله وه چې د روژې میاشتې په اوږدو کې یې اوربند اعلان کړی و.

۲۱. د ۲۰۲۵ کال د فبروري له لومړۍ نېټې څخه د اپریل تر ۳۰ پورې، د برحاله چارواکو پر اهدافو د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان ډلې بریدونو دوام درلود. په ځانګړي ډول نوموړې ډلې په کندز ښار کې پر برحاله امنیتي ځواکونو چې خپل

معاشات یې راخیستل د فبرورۍ د ۱۱ نېټې برید ادعا وکړه. په دغه برید کې نولس سرې (۴ ولسي وګړي او ۱۵ د برحاله چارواکو غړي) ووژل شول؛ د ټپیانو شمېر لا تر اوسه نامعلوم پاتې دی. د فبرورۍ پر ۱۳ نېټه، د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان ډلې په کابل کې په برحاله ښاري پراختیا او کور جوړونې په وزارت کې د ځانمرګي برید مسوولیت پر غاړه واخیست. د دغه برید له امله یې ۳ سړي ووژل شول او ۱۰ نور ټپیان شول، چې د برحاله مرستیال وزیر په ګډون ټول یې د نوموړي وزارت کارمندان وو.

۲۲. د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ له لومړۍ نېټې څخه د اپریل تر ۳۰ پورې، د ګڼ شمېر وسله والو نښتو راپور ورکړل شوی چې برحاله امنیتي ځواکونه او پاکستاني امنیتي ځواکونه په کې ښکېل وو. د هلمند ولایت په دیشو کې له یوې پېښې پرته، زیاتره هغه یې د ننګرهار (ګوشته، نازیان، لعلپوره او مهمندره)، کونړ (خاص کونړ، دور بابا) او خوست (تیره زی، ګوربز او ځاځي میدان) په سرحدي ولسوالیو کې رامنځ ته شوي، او دواړو لورو په ختیځو، جنوب ختیځو او جنوبي سیمو کې د پولې په دواړو خواوو کې خپل نظامي حضور د پام وړ زیات کړی. د فبرورۍ پر ۲۲ نېټه، په ننګرهار کې وسله والې نښتې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تورخم پولې د تړلو لامل شوې او برحاله چارواکو ولسي وګړو او بشري فعالینو ته د سیمې د تخلیې لارښوونه کړې وه. له برحاله چارواکو او پاکستان له لوري د ځايي پلاوو له مذاکراتو وروسته پوله د مارچ پر ۱۹ نېټه د سوداګریز ترافیک پر مخ او د مارچ پر ۲۲ نېټه د عمومي تګ راتګ پر مخ پرانستل شوه.

۲۳. د فبرورۍ پر ۱۶ نېټه، د راپورونو له مخې د نامعلومو کسانو له خوا د کونړ ولایت په سرکانو ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان یو لوړ پوړی قوماندان په داسې په ډزو وویشتل او سخت ټپي شو کله چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ له پولې د تېرېدو په حال کې و. د مارچ پر ۱۱ نېټه په کونړ ولایت کې د تحریک طالبان پاکستان بل قوماندان د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. د اپریل پر ۲۲ نېټه د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې د ادعاوو له مخې ۱۸ وسله وال له افغانستان څخه پاکستان د اوښتو پرمهال ووژل شول او نامعلوم شمېر یې ټپیان شول. د اپریل پر ۲۷ نېټه، د پاکستان د معلوماتو له مخې پاکستاني امنیتي ځواکونو د ادعاوو له مخې د تحریک طالبان پاکستان ۵۴ غړي ووژل.

۲۴. د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ له لومړۍ نېټې څخه د اپریل تر ۳۰ پورې، ملګرو ملتونو ۲۲ پېښې مستند کړي چې په مستقیم ډول یې د دوی کارمندان اغېزمن کړي. پر پوله د کشالې له زیاتېدو وروسته د برحاله چارواکو په مشوره د جنورۍ پر ۲۹ نېټه د ملګرو ملتونو کارمندان له تورخم پولې بل خوندي ځای ته ولېږدول شول.

۲۵. یوناما د کوچنیو او سپکو وسلو لپاره د خطر راکمونې کاري چوکاټ جوړ کړی څو له شریکانو سره د عملي تدابیرو په تعقیبولو کې مرسته وکړي چې افغانستان او سیمې ته د راتلونکو ناقانونه وسلو څخه را ولاړېدونکو ګواښونو ته رسیدګي وکړي. همدارنګه له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر له خوا د ځار د پلان طرح، له ټولو شریکانو څخه د اړینو ارقامو ترلاسه کول د کوچنیو او سپکو وسلو په تړاو د ماموریت د هڅو لپاره ننګونه ګڼل کېږي.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۶. د فبرورۍ له ۱۳ تر ۱۵ نېټې پورې، د رئیس الوزرا اقتصادي چارو مرستیال عبد الغني برادر دوحې ته سفر وکړ چیرې چې هغه د قطر له لومړي وزیر او د بهرنیو چارو له وزیر شیخ محمد بن جاسم الثاني سره ولیدل، چې د دوه اړخیزو اړیکو او د پانګوونې د پیاوړي کولو په اړه یې خبرې اترې ترسره کړې. د فبرورۍ پر ۲۲ او ۲۳ د رئیس الوزرا د اقتصادي چارو مرستیال له ازبکستان څخه لیدنه وکړه او ازبکستان له لومړي وزیر عبد الله اریپوف سره یې ولیدل چې د سوداګرۍ، انرژۍ او زیربنا د تقویه کولو په اړه خبرې اترې وکړې. د فبرورۍ له ۱۹ تر ۲۱ پورې برحاله د مرکزي بانک رئیس احمد ضیاء آغا د روسیې فدراسیون په یکاتیرنبورګ د مالي سایبري امنیت په غونډه کې ګډون وکړ. د مارچ پر ۶ نېټه برحاله د عدلیې وزیر عبد الحکیم شرعي په سعودي عربستان کې د مذهبونو ترمنځ د پلونو جوړولو په نامه په نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړ. د مارچ له ۹ تر ۱۴ نېټې پورې برحاله د بهرنیو چارو وزیر د دوه اړخیزو ناستو لپاره مسقط ته سفر وکړ، هلته یې د عمان د بهرنیو چارو له وزیر بدر بن حماد البوسیدی سره ولیدل. د اپریل له ۲۸ د مۍ تر ۴ نېټې پورې، برحاله د بهرنیو چارو وزیر له قطر څخه لیدنه وکړه چیرې

چې یې له لومړي وزیر او د بهرنیو چارو له وزیر سره ولیدل چې په افغانستان کې د وروستیو تحولاتو او د دغه هیواد له وګړو سره د مرستې کولو د لارو چارو په اړه خبرې اترې ترسره کړې.

۲۷. سیمه ییزو پلاوو هم له افغانستان څخه لیدنه کړې څو له برحاله چارواکو سره تعامل وکړي. د فبروري پر ۲۲ نېټه د پاکستان د دفاع وزیر خواجه محمد اصف له کابل څخه لیدنه وکړه او د رئیس الوزرا د اقتصادي چارو د مرستیال په ګډون یې له برحاله چارواکو سره وکتل څو د سیمه ییز امنیت او له تروریزم سره د مبارزې د هڅو په اړه خبرې ترسره کړي. د مارچ له ۲۱ تر ۲۳ نېټې پورې د افغانستان لپاره د پاکستان ځانګړي استازي محمد صادق له کابل څخه لیدنه وکړه او له برحاله بهرنیو چارو له وزیر، برحاله د سوداګرۍ او صنایعو له وزیر نور الدین عزیزي، او برحاله د دفاع له وزیر یعقوب مجاهد سره یې وکتل څو د دواړو هیوادونو ترمنځ د شخړو د حل لپاره د یوه جوړښت د اړتیا په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د اپریل پر ۱۶ نېټه ښاغلي صادق د دوه اړخیزو تعاملاتو لپاره یو ځل بیا له کابل څخه لیدنه وکړه، لکه د همکارۍ د ګډې کمېټې د غونډې ګډ رهبري کول، یو داسې غونډ ځای چېرې چې دوه اړخیزو اندېښنو ته رسیدګي کیږي لکه د پولې په اوږدو کې امنیتي پېښې او د کډوالو راستنېدنه. د اپریل پر ۱۹ نېټه د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر محمد اسحاق ډر کابل ته سفر وکړ چې د برحاله رئیس الوزرا محمد حسن اخوند او برحاله د بهرنیو چارو د وزیر په ګډون له برحاله چارواکو سره وګوري څو د دوه اړخیزې همکارۍ د ودې او پراختیا په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د اپریل پر ۲۱ نېټه د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال او د اقتصاد وزیر سیریک ژومنګرین په کابل کې د رئیس الوزرا د اقتصادي چارو له مرستیال او برحاله د بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل چې د اقتصادي همکارۍ د پیاوړي کولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د اپریل پر ۲۳ نېټه، د افغانستان لپاره د روسیې فدراتیف ځانګړي استازي ضمیر کابلوف له کابل څخه لیدنه وکړه او د برحاله بهرنیو چارو وزیر او برحاله کورنیو وزیر په ګډون یې له برحاله چارواکو سره ولیدل چې د دواړو هیوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو غښتلي کولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د اپریل پر ۲۷ نېټه د هند د بهرنیو چارو د وزارت ځانګړي استازي انند پرکاش له کابل څخه لیدنه وکړه او د برحاله بهرنیو چارو له وزیر سره یې وکتل څو د دوه اړخیزو سیاسي اړیکو، سوداګرۍ، ترانزیت او په سیمه کې د وروستیو تحولاتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۸. د مۍ پر ۲۸ نېټه په یوه ګډه اعلامیه کې د چین او روسیې لخوا د یوه خپلواک، بې طرفه، متحد او سوله ییز دولت په څېر چې له تروریزم او نشه یې توکو پاک وي او له ټولو ګاونډیو هیوادونو سره په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړي، یو افغانستان د رامنځ ته کیدو ګډه اراده په ډاګه شوې. د مۍ پر ۱۰ نېټه د افغانستان لپاره د چین د بهرنیو چارو د وزارت ځانګړي استازي یو شیایونګ او د افغانستان لپاره د پاکستان ځانګړي له برحاله بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل څو د بهرنیو چارو د وزیرانو د درې اړخیز ډیالوګ په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۹. یوناما د سیمه ییزې همکارۍ په هڅو کې ګډون کول او د هغوی تسهیلول جاري ساتلي. د ماموریت په تعاملاتو کې په کابل کې له میشتو ډیپلوماتیکو ماموریتونو سره د ناستو او ملاقات کوونکو ډیپلوماتانو سره د دوه اړخیزو تعاملاتو تنظیمول شامل دي. د مارچ پر ۲۶ نېټه په کابل کې د سفیرانو د کچې په یوه منظمه ناسته کې، په قزاقستان کې د مرکزي اسیا او افغانستان د پایښت لرونکو پراختیایي موخو لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه ییز مرکز د جوړولو په اړه د عمومي اسامبلې د ۲۶۸/۷۹ پریکړه لیک په تعقیب چې د مارچ پر ۴ نېټه تصویب شو، ګډونوالو په دې اړه خبرې وکړې چې څرنګه همکاري لا پراخه شي.

### دریم: بشري حقونه

۳۰ د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان ولایت ډلې او د افغانستان د آزادۍ غورځنګ له خوا د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو ادعا شوې بریدونه، او دغه راز ځینې له ادعا پرته بریدونه د ولسي مرګ ژوبلې لامل شوي. لږ تر لږه اووه ولسي وګړي (شپږ سړي او یوه ښځه) وژل شوي، او لږ تر لږه ۳۹ نور (۳۸ سړي او ۱ هلک) ټپیان شوي.

۳۱. د پاکستاني امنیتي ځواکونو او برحاله امنیتي ځواکونو ترمنځ د پولې په اوږدو کې وسله وال تاوتریخوالی د ولسي مرګ ژوبلې لامل شوی. د فبروري پر ۱ نېټه په پکتیکا ولایت کې هوایي برید یو جومات په نښه کړ چې درې ولسي نارینه یې ووژل. په

افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما په لیکلې بڼه خبره کړه چې په یاده سیمه کې "د پاکستان له خوا کوم هوايي برید نه دی ترسره شوی" او دا چې "په سیمه کې رامنځ ته شوې ولسي مرګ ژوبله د پاکستان له خوا له کوم فعالیت سره تړاو نه لري". د مارچ د درېمې نېټې پر شپې په ننګرهار ولایت کې د پاکستاني امنیتي ځواکونو له خوا په ډزو کې یو هلک او یو ولسي نارینه ټپيان شول. د مارچ پر ۵ نېټه په ننګرهار ولایت کې د پاکستاني امنیتي ځواکونو له خوا په ډزو کې درې نارینه ژورنالیستان ټپيان شول. د مارچ له ۳ تر ۵ پورې پېښو ته په غبرګون په افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما په لیکلې بڼه خبره کړه چې "د ۲۰۲۵ کال د مارچ د ۳ نېټې په لومړیو ساعتونو کې افغان ځواکونو د تورخم پولې په اوږدو کې د درنو وسلو بې موجبه او بې توپیره ډزې پیل کړې. دغو ډزو د ۲۰۲۵ کال د مارچ تر ۵ نېټې پورې دوام وکړ، چې له امله يې د پاکستان په لوري کې د ولسي مرګ ژوبلې په ګډون یو شمېر تلفات رامنځ ته شول، چې له دې امله پاکستاني ځواکونه غبرګون ښودلو ته اړ شول." د مارچ پر ۲۸ نېټه په پکتیکا ولایت کې د پاکستاني ځواکونو له خوا پر یوه کور هوايي برید ترسره شو چې له امله يې اووه ولسي وګړي (یو سړی، یوه ښځه، دوه هلکان او درې نجونې) ووژل شول.

۳۲. ناچاوده مهمات لا اوس هم ولسي وګړو ته چې زیاتره يې ماشومان دي، زیان اړوي. د راپور ورکولو په موده کې، ټولټال ۱۶ ولسي وګړي (شپږ سړي، دوه نجونې او اته هلکان) وژل شوي او ۳۵ نور (۳ سړي، ۱ ښځه، ۹ نجونو او ۲۲ هلکان) ټپيان شوي.

۳۳. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما د تېر حکومت د چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو لږ تر لږه ۱۰ خپلسرې نیونې او توقیفونې مستند کړي.

۳۴. برحاله چارواکو د اپریل پر ۱۱ نېټه په بادغیس (دوه سړي)، نیمروز (یو سړی) او فراه (یو سړی) ولایتونو کې په عام محضر کې څلور اعدامونو ترسره کړي. درې واړه د قتل په جرم محکوم شوي وو او سزاګانې يې د برحاله درې ګونو محاکمو (ابتدائیه، مرافعه او تمیز) له تصدیق او د طالبانو د مشر له خوا تایید شوي. لوړي پوړي برحاله چارواکو د اعدام په مراسمو کې ګډون کړی و او د راپورونو له مخې يې د دې نابریالۍ هڅه کړې وه چې د مقتول قربانیانو کورنۍ د محکومو افرادو عفوې ته وهڅوي او د مرګ سزا تطبیق نه شي. پر ټولنیزو رسنیو د یوناما له خوا د دغو اعدامونو غندلو ته په غبرګون کې، برحاله د بهرنیو چارو وزارت د اپریل پر ۱۵ نېټه یوه اعلامیه خپره کړه، په اعلامیه کې په ډاګه شوې چې د شریعت له خوا مقرر شوې سزاګانې یو دیني مکلفیت دی او دا د یوناما لپاره غوره ده چې په دغه ډول ځرګندونو کې له دخیلیدو ډډه وکړي.

۳۵. د مارچ پر ۲۰ نېټه، د مارچ پر ۲۰ نېټه نوی تعلیمي کال پیل شو، دا څلورم کال دی له کوم وخت راهیسې چې د شپږم ټولګي څخه پورته د برحاله چارواکو له خوا د نجونو پر زده کړو بندیز لګول شوی. تر اوسه پورې د نجونو او ښځو پرمخ د لېسو او پوهنتونونو د بیا پرانیستلو په اړه د برحاله چارواکو له خوا کوم اعلان نه دی شوی.

۳۶. د مارچ په ۱۹ نیټه، برحاله چارواکو د خیښۍ، ودونو، مصیتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنیدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په اړه د طالبانو د مشر یو نوی فرمان خپور کړ. دغه فرمان د برحاله چارواکو د ښځو د حقونو په اړه د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر د ۳ نېټې فرمان بیا تاییدوي او په ډاګه کوي چې واده ته د یوې ښځې اړ کول غیرقانوني عمل دی او دا چې "په زور واده کول، یا د ښځو د حقونو نقض کول باید د اسلامي امارت په محکمو کې وڅېړل شي". فرمان همدارنګه په ډاګه کوي چې محاکم مکلف دي چې شکایتونو ته د ښځو د حقونو په اړه د ۲۰۲۱ کال د دسمبر ۳ نېټې له فرمان سره سم رسیدګي وکړي. د راپور ورکولو د مودې پرمهال، یوناما د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د قربانیانو راپورونه ترلاسه کړي څوک چې عدالت ته په لاسرسي کې د پام وړ خنډونو سره مخ شوي، د اجباري واده د قضیو په ګډون کوم چې د ۲۰۲۱ کال د فرمان له خوا منع شوی.

۳۷. د فبروري پر ۱۳ نېټه په کابل کې برحاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت رسنیو ته لارښوونه وکړه چې د سیاسي بحثونو په اړه خپرونې بندې کړي. تر دغې لارښوونې مخکې رسنیو له مخکې څخه ثبت شوې هغه سیاسي محتوا خپروله چې د نوموړي وزارت له خوا به تایید شوې وه.

۳۸. د برحاله چارواکو له خوا له هغو رسنیو سره د ژورنالستانو پر همکارۍ ممنوعیت دوام لري، کومې چې له افغانستان څخه بهر خپلې چارې پرمخ وړي. د مثال په ډول، د فبروري پر ۴ نېټه، برحاله د استخباراتو لوي ریاست او برحاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت د بیګم راډیو دوه نارینه کارمندان ونیول، هغوي یې له افغانستان څخه بهر یوه تلویزیوني چینل ته د مطبوعاتي محتوا په برابرولو تورن کړل. هغوي د "طالبانو پر ضد د تبلیغ" په تور محاکمه شوي او لا اوس هم په بند کې دي.

۳۹. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو د خپلو پراخو او تعزیري صلاحیتونو په کارولو سره د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون رعایتول او تنفیذ څارلي. څارنې او تنفیذ په مختلفو ځایونو کې ترسره شوې چیرې چې په کې شفاهي اخطارونه، خپلسرې نیونې او توقیفونه، فیزیکي وهل ټکول او نورې سزاګانې شاملې وې. برحاله محتسبینو د ښځو د تګ راتګ آزادي محدوده ساتلې او له محرم پرته یې هغوي له کلینیکونو، مارکیټونو او عامه ترانسپورت څخه منع کړې. د روژې پرمهال په ځینو ولایتونو کې هغه کسان په خپلسري ډول نیول شوي یا ورسره ناوړه چلند شوي چا چې په جوماتونو کې لمونځ نه دی ترسره یې کړي یا یې د لمانځه پرمهال خپل کاروبارونه پرانیستي ساتلي. د اپریل پر ۲۰ نېټه برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزیر محمد خالد حنفي د محتسبینو یوه غونډې ته وویل چې د زور له کارونې پرته د خلکو پر ذهنونو کار وکړي.

۴۰. د فبروري له ۱ نېټې څخه د مارچ تر پای پورې، برحاله د زندانانونو د چارو د سمون ادارې د نږدې ۱۳۰۰ بندیانو بخښنه او خوشې کیدنه او د نږدې ۱۵۵۰ بندیانو لپاره په سزاګانو کې د کموالي اعلان وکړ. د مارچ پر ۲۹ نېټه سترې محکمې اعلان وکړ چې د کوچني اختر په مناسبت د طالبانو د مشر په تایید ۲۴۶۳ بندیان خوشې شول او د ۳۱۵۲ نورو سزاګانې راکمې شوې. د اپریل په پای کې، برحاله د زندانانونو د چارو د سمون ادارې خبر ورکړ چې په زندانونو کې د بندیانو شمېر له ۲۷۰۰۰ څخه زیات دی.

۴۱. د ۲۰۲۵ کال د اپریل له ۹ څخه تر ۲۸ نېټې پورې د جنسیت د برابرۍ او د ښځو د ځواکمنتیا لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې، د کډوالۍ د نړیوال سازمان او یوناما له خوا سلا مشورې ترسره شوې چې په ټول هیواد کې پر ښځو او سړیو د برحاله چارواکو د پالیسي ګانو اغیزې مستندوي. ګډونوالو په ډاګه کړه چې محدودیتونو لکه د محرم د شتون شرط، د نجونو پر زده کړو بندیز او د استخدام خنډونو هغه ستونزې لا پسې ناوړه کړې چې ښځې ورسره مخ دي. ښځو خبر ورکړ چې عامه فضاوو ته د لاسرسي له لاسه ورکولو د هغوي پر دې ورتیا زیانمنوونکې اغیز ښیندلی چې د خپل ژوند په اړه باخبره پریکړه وکړي او بنسټیز خدمتونه ترلاسه کړي. همدارنګه په پریکړه کولو کې د ښځو پر انګیرل شوي مشروعیت او نفوذ د منفي اغیز خبر ورکړل شوی. ګډونوالو اخطار ورکړی چې دغه ډینامیکونه د نه ځواکمنتیا کلتوری پیاوړی کوي چې په افغانستان کې د ښځو لپاره د لا زیاتې انزوا او د رواني روغتیا د ننګونو لامل کېږي.

## څلورم: اقتصادي پرمختګ، د بسپنه ورکوونکو همغږي او د مرستو اغېزمنتیا

۴۲. د نړیوال بانک د شمېرو پر بنسټ، د افغانستان اقتصاد د ۲۰۲۴ کال د مارچ څخه تر ۲۰۲۵ کال مارچ پورې د مالي کال په اوږدو کې منځنۍ وده کړې، د ټولنیزو شاخصونو د لا ښه والي لپاره لا هم کافي نه ده. بیوزلي، بېکاري او د خرید محدود ځواک لا هم پر خپل ځای پاتې دي. اقتصادي لرلید کمزوری او نازک دی، چې د پالیسۍ ناڅرګندتیا، مالي انزوا او سوداګرۍ او مرستو بې ثباتۍ محدود کړی دی. عمومي انفلاسیون ۱،۹ سلنې ته رسیدلی. د مالي کال له پیل راهیسې، یې ۴،۶ سلنه راټیټې شوې، چې ستر لامل یې د خوراکي توکو د بیو راټیټېدل دي. د افغانۍ ارزښت د خپلو لومړنیو سوداګریزو شریکانو د اسعارو پر وړاندې لوړ شوی، چې د فبروري څخه تر مارچ پورې د اسمي اغیزمن تبادلې نرخ کې ۳،۵ سلنه لوړوالی راغلی دی. د افغانۍ ارزښت په مارچ کې ۳،۶ سلنه لوړ شوی او یو امریکایي ډالر په ۷۱،۱ افغانۍ تبادله کېده، چې د مرکزي بانک د ډالرو لیلامونو او موسمي جریانونو لخوا تقویه کیږي. د کال په کال شمېرو پر بنسټ، د افغانۍ ارزښت د نورو اسعارو پر وړاندې ۹،۴ سلنه لوړ شوی دی.

۴۳.	نړیوال بانک همدارنګه راپور ورکړی چې د مالي کال په اوږدو کې د سوداګرۍ کسر ۹،۴ میلیارده ډالرو ته رسېږي (د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۴۵،۴ سلنه جوړوي)، چې ۴۸،۲ سلنه زیاتوالی ښیي. صادرات د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ له میاشتې څخه تر مارچ میاشت پورې ۲۱،۳ سلنه او د کال په کال شمېرو پر بنسټ، ۱۲ سلنه راکم شوي چې ارزښت یې ۱،۷۹ میلیارده ډالرو ته رسېږي، چې تر ټولو ډېر کموالی د ډبرو سکرو او منسوجاتو په صادراتو کې راغلی دی (په ترتیب سره منفي ۶۴ سلنه او منفي ۱۴ سلنه). د خوراکي توکو صادرات ۴ سلنه لوړ شوي، چې ستر لامل یې د چین لخوا د تعرفو معاف کول ښودل شوي دي. پاکستان د افغان صادراتو لپاره تر ټولو ستر بازار پاتې شوی دی. همدارنګه واردات په روان مالي کال کې د تېر کال د ۸،۱۴ میلیارده ډالرو په پرتله ۱۱،۶ میلیارده ډالرو ته پورته شوي، چې ستر لامل یې پانګه ایزو توکو، خام موادو او مصرفي توکو ته (په ترتیب سره مثبت ۴۹ سلنه، مثبت ۴۳ سلنه او مثبت ۳۰ سلنه) د تقاضا زیاتوالی ښودل شوی دی. د ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان او چین د افغانستان ستر واردوونکي هېوادونه دي. د کال په کال شمېرو پر بنسټ، راټول شوي عواد ۲۴۱،۳ میلیارده افغانیو (۳،۴ میلیارده ډالر) ته رسېږي، چې د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۱۶،۶ سلنه جوړوي او د ۱۴ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره له ټاکل شوي هدف څخه ۶ سلنه پورته دي. په روان مالي کال کې کورني مالیاتي عواید ۲۸،۵ سلنه، د ګمرکونو عواید ۲۹ سلنه او غیر مالیاتي عواید ۳۱،۲ سلنه لوړ شوي دي. سربېره پر دې، داسې ښکاري چې واکمن چارواکي له مالي محدودیتونو او فشارونو سره مخ دي، چې له امله یې د معاشاتو په ورکړه او د کارکوونکو څخه وضع شوو پیسو په بېرته ورکولو کې ځنډ رامنځته شوی دی.

۴۴.	د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د کلنۍ ارزونې پر بنسټ چې د ۲۰۲۵ کال د اپریل په ۳۰ نېټه خپره شوې، ۷۵ سلنه خلک د ژوندانه له اساسي اړتیاوو بې برخې دي چې د ۲۰۲۳ کال د ۶۹ سلنې په پرتله زیاتوالی ښیي، چې لامل یې خرابېدونکی ټولنیز اقتصادي وضعیت دی. بشپړې سرپناه، روغتیا ساتنې او اړینو توکو ته لاسرسی راکم شوی، په داسې حال کې چې مالي زیانونه لا پسې زیات شوي دي. اقتصادي ټکانونو ۹۰ سلنه کورنۍ اغېزمنې کړي، خو هغه کورنۍ چې مشري یې ښځې کوي بیا ۹۷ سلنه اغېزمنې شوي دي. اووه سلنه ښځې او ۸۴ سلنه نارینه له کورنۍ بهر دندې ترسره کوي. په کلیوالي سیمو کې ۷۱ وګړي اوسېږي، چې د ښاري سیمو په پرتله یې د ژوندانه اساسي اړتیاوو نه پوره کېدلو کچه ۱۵ سلنه لوړه ده او د نظافت، روغتیا ساتنې او سونګ توکو په برخو کې له شدید کمښت سره مخ دي.

۴۵.	واکمنو چارواکو د ځان بسیاینې ټاکل شوي هدف په تعقیب، د قوش تېپې کانال په څېر د لویې کچې زیربنایي پروژو په ګډون، د کورنیو عوایدو پر مټ تمویلېدونکې پروژې زیاتې کړې دي. د واکمنې ادارې اقتصادي کمیسیون د اپریل په ۱۵ نېټه د ملي پراختیا پنځه کلنه ستراتیژي منظور کړه.

۴۶.	یوناما د فبرورۍ په ۱۳ نېټه د خصوصي سکتور کاري ډلې له غونډې وروسته له غړو هېوادونو او د ملګرو ملتونو ادارو سره د مارچ په ۲۷ نېټه د خصوصي سکتور د پایداره ملاتړ لپاره د عمومي تګلارې په اړه ابتدایي تخنیکي سلا مشورې ترسره کړې. یوناما د ملګرو ملتونو ادارو، غړو هېوادونو، واکمنو چارواکو او د خصوصي سکتور استازو سره تخنیکي دوه اړخیزې سلا مشورې وکړې، څو د خصوصي سکتور کاري ډلې راتلونکې غونډې لپاره چې د ملموسو پایلو پر وړاندې کولو باندې تمرکز کوي، چمتووالی ونیسي.

۴۷.	د چاپیریال نړیوال صندوق (GEF) د مارچ په ۱۳ نېټه د ۸،۹ میلیون ډالرو په ارزښت د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) پروژه منظور کړه چې د اقلیم پر وړاندې پایداره معیشتونو پیاوړي کولو او ځنګلونو احیاء کولو لپاره په دوو ولایتونو کې ۸۰۰۰۰ خلکو ته ګټه رسوي. د مارچ په ۲۴ نېټه د افغانستان د اقلیمي ډیالوګ غیر رسمي پلټفورم تخنیکي غونډه د ناروې او واکمنو چاوراکو په ګډې مشرۍ او د ملګرو ملتونو په ملاتړ په کابل کې جوړه شوه. له ۶۰ څخه زیاتو ذینفع شریکانو او ګډونوالو د اقلیمي بدلون اړوند تخنیکي مسایلو باندې بحثونه وکړل.

۴۸.  د افغانستان د همغږۍ ګروپ (ACG) د اروپايي ټولنې، ملګرو ملتونو او نړيوال بانک په ګډه مشرۍ د اپريل په ۹ او ۱۰ نېټه افغانانو ته د بشردوستانه مرستو او اساسي بشري اړتياوو مرستو په برخه کې د مالي تمويل د کمښت پر اغېزو د بحث او خبرو اترو په موخه د ترکيې په استنبول ښار کې غونډه وکړه. دغه ګروپ د همغږۍ طرحې ارزونه ترسره کړه چې موخه يې د اساسي بشري اړتياوو مرستو، بشردوستانه غبرګون او روانو سياسي بهيرونو د اصولي تګلارې تنظيمول او برابرول دي.

۴۹.  د افغانستان د ځانګړي اماني صندوق د رهبرۍ مشورتي کمېټې د اپريل په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو ستراتيژيک کاري چوکاټ سره سمه د دې صندوق لايحه ترتيب کړه او د کندز او بغلان ولايتونو لپاره يې ”په ګډه د بيا جوړولو“ طرحه چې ټولنو سره د راستنېدونکو کډوالو په بېرته يو ځای کېدو باندې تمرکز کوي، تائيد کړه. يادې کمېټې د ۲۰۲۵ کال لپاره له ډنمارک څخه ۶،۹ ميليونه ډالر ترلاسه کړي، چې په دې توګه د کوريا جمهوريت د يو ميليون ډالرو مرستې په کولو سره د څوارلسم مرسته کوونکي په توګه له دې هڅو سره مل شوی دی.

۵۰.  ملګرو ملتونو د فبرورۍ په ۳ نېټه د ۲۰۲۵ کال لپاره د خطر عمومي ارزونه تائيد کړه، چې په پايله کې يې همکاري زياتېږي او د خطرونو په پېژندلو کې ښه والی رامنځته کېږي او همدارنګه د غوره ارقامو راټولولو، تصميم نيونې او مؤثريت رامنځته کېدو لامل کېږي. د واکمنو چارواکو مرستيال وياند د روڼتيا نړيوال سازمان د ۲۰۲۴ کال د اداري فساد شاخص راپور چې د فبرورۍ په ۱۱ نېټه خپور شو او افغانستان د ۱۸۰ هېوادونو له ډلې په ۱۶۵ مقام کې راغلی و، دغه راپور يې نيمګړی او د بې باوره سرچينو په اساس جوړ شوی وباله.

۵۱.  ملګرو ملتونو او همکارو ادارو د مۍ په لومړۍ نېټه له پاکستان څخه د افغان راستنېدونکو کډوالو لپاره د غبرګون يو جامع پلان ۲۰۲۵ جوړ کړ، چې موخه يې په سرحدي نقطو کې د سملاسي مرستو چمتو کول او له خپلو ټولنو سره د دوی بېرته يوځای کېدلو کې مرسته کول دي. دغه پلان د ۳۵۰ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت تطبيقېږي.

۵۲.  د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (يونيسف) په مارچ مياشت کې له محلي او سيمه ايزو مارکيټونو څخه د کيفيت له پلوه تضمين شوو درملو ترلاسه کول پيل کړل، څو د عرضې زنځيرونه جوړ او اوږد مهاله پايښت رامنځته کړي.

۵۳.  د افغانستان د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې څخه د خونديتوب شبکې په مارچ مياشت کې په پنځو ولايتونو کې يوه پروژه په ازمايښتي ډول تطبيق کړه، چې په ترڅ کې يې د ۷۵۰ کاليو ګنډلو ماشينونو د ويش او له خطر سره مخ افرادو د مهارت لوړولو په ګډون، د معيشت واقعي مرستې باندې په تمرکز سره ۴۶۴۸ ښځو ته پوهاوی ورکړی دی.

**پنځم: بشري مرستې**

۵۴.  په ۲۰۲۵ کال کې په افغانستان کې ۲۲،۹ ميليونه خلک د خوړو دوامداره نه تأمين او خوارځواکۍ، د وګړو يوځای نه بل ځای ته تګ راتګ، طبيعي پېښو او اقليمي ټکانونو، کمزوري او تر فشار لاندې اقتصاد او اساسي خدمتونو ته د محدود لاسرسي له کبله ژوند ژغورونکو مرستو ته اړتيا لري. د بسپنې کمښت پر بشردوستانه فعاليتونو باندې پراخې اغېزې درلودلې دي، پروژې او د کارکوونکو ګمارل يې زيانمن کړي او همکار شريکان يې دې ته اړ کړي څو له سره د مرستو لومړيتوب بندي وکړي. د دغو کمښتونو په پايله کې په سلګونو روغتيايي مرکزونه وتړل شول او د کوچنيانو لپاره د خوارځواکۍ اړين خدمتونه محدود او د زيان منونکو افغانانو لپاره د خونديتوب مهم خدمتونه بند شول، د زرګونو کورنيو سره مرسته کېدونکې د نغدو پيسو مرستو پروګرامونه وځنډېدل او د سلګونو زره خلکو سره مرسته کوونکي د اوبو لسګونه سيستمونه خراب شول. د مالي تمويل او بسپنې دغه بحران ته په پام سره، د افغانستان د بشري مرستو د هېواد په کچه ټيم د ۲۰۲۵ کال لپاره د بشري اړتياوو او غبرګون پلان کې په بيړنۍ توګه لومړيتوبونه په ګوته کړل، چې د ۱۶،۸ ميليونه په نښه شوو وګړو څخه يې ۱۲،۵ ميليونه خلک تر ټولو

زیات او شدید اړمن په ګوته کړل، چې د مرستې لپاره یې د ټولټال ۲،۳۵[2] میلیارده ډالرو څخه ۱،۶۲ میلیارده ډالره مرسته ورته اړینه ده.

۵۵. په بشردوستانه فعالیتونو کې د جنډر (جنسیت) کاري ډلې او د بشردوستانه لاسرسي کاري ډلې په مارچ میاشت کې په غیر دولتي مؤسسو او ملګرو ملتونو کې پر افغان ښځو د کار کولو د بندیزونو پر اغېزو او نورو محدودیتونو باندې خپله یوولسمه سروې ترسره کړه. د دغې سروې موندنو وښودله چې د ښځینه کارکوونکو په تګ راتګ کې کموالی راغلی دی، او یواځې ۴۰ سلنه یې کولای شي له ساحو څخه لیدنه وکړي (په ډسمبر میاشت کې د ۵۲ سلنې په پرتله کموالی ښي). د سروې شویو بشري همکارو شریکانو نیمایي یې د بسپنې د کمښت له امله د ښځو او نجونو اړتیاوو په نښه کولو لپاره د ګوتو په شمېر پروژې ځانګړې کړې دي - نږدې دریمه برخه سازمانونو راپور ورکړی چې دوی نور نشي کولای د محرم اړوند لګښتونه پوره کړي یا د جنډر له پلوه ځواب ویونکې ترتیبات دوامداره وساتي. یوازې ۴۳ سلنه سازمونونو راپور ورکړی چې دوی د ښځینه او نارینه کارکوونکو په شتون سره په بشپړه توګه فعالیت کوي، چې ۱۹ سلنه کموالی ښکاره کوي، چې لامل یې محدودیتونه د تمویل یا بسپنې کمښت دی.

۵۶. د بشردوستانه مرستو شریکانو له جنورۍ میاشتې څخه تر فبرورۍ میاشتې پورې د لږ تر لږه یو ډول مرستې په ورکولو سره ۷،۶ میلیونه خلکو ته رسېدنه کړې، چې له ډلې یې لږ تر لږه ۱ میلیون خلکو په درې بیلابیلو سکتورونو کې مرستې ترلاسه کړې دي. په دوی کې ۶،۵ میلیونه خلکو د خوراکي توکو او معیشت په برخه کې، ۲،۳ میلیونه خلکو د روغتیا ساتنې په برخه کې، ۱،۷ میلیونه خلکو د اوبو، نظافت او حفظ الصحې په برخه کې، ۱،۴ میلیونه ماشومانو، میندوارو او شېدې ورکوونکو مېرمنو د تغذیې په برخه کې، ۱ میلیون خلکو د خوندیتوب په برخه کې، ۴۶۵۰۰۰ ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې او ۱۸۸۰۰۰ خلکو د بیړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکو مرستې ترلاسه کړې دي.

۵۷. ګڼ شمېر ننګونکې د دې لامل شوي چې د خوړو نه تأمین او خوارځواکۍ زیاتوالی دوام پیدا کړي، چې ۱۴،۸ میلیونه خلک د خوراکي موادو د نه تأمین له بحران یا بیړنۍ کچې (د خوړو د تأمین بشپړې ډلبندۍ ۳ مرحلې او له دې پورته) سره مخ دي او د اټکل له مخې ۳،۵ میلیونه ماشومان په ۲۰۲۵ کال کې له جنورۍ څخه تر مارچ پورې له خوارځواکۍ سره مخ دي.[3] نړیوال خوراکي پروګرام (WFP) له ۶،۹ میلیونه خلکو سره د خوراکي موادو، تغذیې، نغدو پیسو او د معیشت په برخه کې مرسته کړې ده.

۵۸. د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې اداري (FAO) د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه تر مارچ ۳۱ نېټې پورې ۶۷۰۰۸۴ خلکو سره د معیشت په برخه کې یو لړ مرستې کړې دي. یادې ادارې ۱۱۲۱ ټولنیز ګروپونه جوړ کړي څو د اقلیمي پلوه د کرنې ځیرکې کړنلارې ترویج کړي، د ابیارۍ د ۱۲ طرحو او پلانونو پر بنسټ یې ۸۱ جوړښتونه رغولي، په ۱۵۰۰۰ هکتاره ځمکه کې یې د ځمکې د طبیعي خاصیتونو د ساتنې په برخه کې مرسته کړې، ۱،۹۶ میلیونه څارویو او چرګانو ته یې واکسین کړي او په ۱۱ ولایتونو کې یې د ملخانو سروې ګانې ترسره کړې دي.

۵۹. د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه تر مارچ ۲۹ نېټې پورې د ډې هایډریشن سره یو ځای د حاد اوبیز اسهال ۲۱۵۳۳ پېښې، د ډینګې تبې ۱۱۵ شکمنې پېښې، ۶۸ د کانګو وینې بهوونکې تبې شکمنې پېښې، د شرې ۲۸۶۱۸ شکمنې پېښې، د ملاریا ۸۱۳۰۴ تائید شوې پېښې او د تنفسي ناروغیو/سینه بغل ۵۱۷۰۰۰ پېښې ثبت کړې دي. همدارنګه یونیسف د ۲۴۰۰ کورنیو سره د مرستو له لارې ۱۹ میلیونه خلکو ته اړین روغتیایي خدمات رسولي دي. له ۶ میلیونو

[2] په دې ټولیزه مجموعه کې د هوایي چلند او همغږۍ او عامه خدمتونو لپاره ۶۵،۱ میلیونه ډالر شامل نه دي. د ۲۰۲۵ کال د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان لپاره لومړنۍ غوښتنه ټولټال ۲،۴۲ میلیارده ډالره وه.

[3] د خوړو د تأمین د مرحلو بشپړه ډلبندي،"افغانستان: د ۲۰۲۴ جون-اکتوبر لپاره د حاد خوارځواکۍ وضعیت او د ۲۰۲۴ کال نومبر نه تر ۲۰۲۵ مۍ پورې مودې لپاره اټکل"، ۷ جنوري ۲۰۲۵ وګورئ.

څخه زیاتو ماشومانو ته یې د پولیو واکسین کړي، ۱ میلیون ماشومانو د وړې تغذیې پوډر ترلاسه کړي او ۴۰۰۰ ماشومانو د قضیو خدمات ترلاسه کړي دي.

۶۰. د روغتیا نړیوال سازمان د صدمې یا تروما مراقبت پروګرام له جنورۍ څخه تر مارچ پورې له ۲۸۸۶۲۴ کسانو سره مرسته کړې ده. په دغه موده کې په ۱۴۷بستري او ۳۱۰۶ غیر بستري روغتیایي مرکزونو کې د شدیدې او حادې خوارځواکۍ څخه رنځېدونکو ۱۳۴۵۷۷ ماشومانو درملنه شوې ده او په منځنۍ حادې خوارځواکۍ اخته ۲۸۸۲۶۲ ماشومانو ته د پروګرامونو له لارې رسېدنه شوې ده. په فبروري میاشت کې ۴۳۴ سیارو روغتیایي او تغذیې ټیمونو د لومړنۍ روغتیا ساتنې له ۴۷۱۷۰۰ څخه زیاتې سلا مشورې ورکړې دي.

۶۱. د جنورۍ لومړۍ نېټې څخه تر اپریل ۳۰ نېټې پورې ۴۲۶۷۹۳ بې اسنادو افغان کډوال (۳۸۱۶۸ ښځې، ۲۵۸۳۱۳ نارینه او ۱۳۰۳۱۲ ماشومان) هېواد ته راستانه شول، چې له دې ډلې ۱۱۷۴۴۲ تنه له پاکستان او ۲۲۲۱۶۳ تنه له ایران څخه خپل هېواد ته راغلل. په دوی کې ۱۷۲۱۰۵ تنه راشړل شوي او له ۹۱۹۷۰ بې اسنادو افغان راستنېدونکو سره د کډوالۍ نړیوال سازمان د پذیرش په مرکزونو کې مرسته شوې ده. د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه د مې تر ۱۲ نېټې پورې، له پاکستان څخه د راستنیدونکو افغانانو ټول شمیر ۱۳۲۶۱۰ تنه بې اسناده کسان او ۱۸۵۱۹ تنه اسناد لرونکي کسان وو، چې له ۷۲۰۸۱ تنو سره د کډوالۍ نړیوال سازمان لخوا مرسته شوې ده. د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د مې تر ۵ نېټې پورې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) شاوخوا ۱۳۲۳۷ راجستر شویو راستنېدونکو کډوالو سره د خوندیتوب خدماتو مرسته وکړه. د اپریل تر نیمايي پورې د پاکستان حکومت د ټولو افغانانو بیرته هیواد ته د راستنیدو څرګند پلان له مخې له پاکستان څخه هره ورځ په اوسط ډول ۸۰۰۰ تنه هېواد ته راستانه شوي. له دې مخکې، د جنوري څخه تر مارچ پورې، له پاکستان څخه هره ورځ له ۱۰۰ څخه کم کسان هېواد راستنیدل. د ایران له اسلامي جمهوریت څخه د بې اسنادو راستنېدونکو کډوالو په شمېر کې زیاتوالی لیدل شوی، چې د خوندیتوب فضاء او چاپیریال دوامداره خرابېدو سره تړاو لري.

۶۲. د جنورۍ څخه تر اپریل پورې د بشردوستانه مرستو لاسرسي اړوند شاوخوا ۳۰۰ پېښې ثبت شوې دي، چې د ۲۰۲۴ کال د ورته مودې په پرتله ۵۲ سلنه کموالی ښيي. لومړنۍ او اساسي ننګونه د واکمنو چارواکو لخوا د بشري مرستو په فعالیتونو کې لاسوهنه بلل شوې، چې د دغو پېښو ۷۰ سلنه جوړوي. په نورو ننګونو کې بیا فزیکي محیط، د بشري مرستو کارکوونکو پر وړاندې تاوتریخوالی د ۷۶ مرستندویانو د توقیف په ګډون (چې ۱۳ تنه د ملګرو ملتونو کارکوونکي هم پکې شامل دي)، د ګرځېدو محدودیتونه، د نظامي عملیاتو دوام او د بشري اړتیاوو د موجودیت نه منل یا ردول شامل دي. دغه پېښې د ۱۵۰ فعالیتونو د لنډ مهاله ځنډېدو او د درې مرکزونو د موقتي بندیز لامل شوي دي. د جنسیت اړوند لاسرسي پېښې په یاده موده کې د ثبت شوو پېښو ۱۷ سلنه جوړوي.

۶۳. د ماین پاکۍ ټیمونه یو پر درې راکم شوي چې یوازې ۱۷۶ ټیمونه فعال دي ترڅو د جون میاشتې تر پای پورې خدماتو رسولو ته دوام ورکړي. د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ماین پاکۍ تخنیکي برخې د مالي تمویل د کموالي له امله په جنوري میاشت کې د فعالیتونو له ځنډولو وروسته، په فبرورۍ میاشت کې د ۷۰ سلنه کارکوونکو په راکمولو سره خپل فعالیتونه بیا له سره پیل کړل، چې له امله یې د کیفیت د تضمین، ډیټابیس مدیریت او همغږۍ په برخو کې د دوی ظرفیت راټیټ شو. دغو ټیمونو په فبرورۍ او مارچ میاشتو کې د بشري مرستو شریکانو اوه ارزونې ترسره کړې، د همغږۍ نهه غونډې او د ناچاوده توکو د پاکولو لپاره ۴۳۰ غوښتنو ته ځوابونه ویلي دي او ۱۰۰۷ ماینونه یې په خوندي توګه پاک او له منځه وړي دي.

۶۴. یونیسف له جنورۍ څخه تر مارچ میاشت پورې د لمریزې برېښنا پر مټ د اوبو ۲۳ سیستمونه جوړ کړي چې ۴۱۴۱ کورنۍ یې سره نښلولي او د نغدي مرستو لېږدولو له لارې یې د میندوارو او شېدې ورکوونکو مېرمنو ۱۱۶۹۴ څخه زیاتو کورنیو سره مرسته کړې، چې ۶۶۰۰۰ خلکو ته یې ګټه رسېدلې ده. له ۴۳۶۰۰۰ څخه زیاتو افرادو ته زیانمنو خلکو ته د یونیسف د حساب ورکونې پروګرام د یوې برخې په توګه د ټولنیزو شبکو له لارې رسېدنه شوې ده.

**شپږم: د نشه اي توکو سره مبارزه**

۶۵.	د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر (UNODC) د مارچ په ۱۲ نېټه د *افغانستان د نشه اي توکو د معلوماتو ځلورمه ګڼه: د نشه اي توکو قاچاق او د ترياکو ساتنه* خپره کړه. د دغې راپور پر بنسټ، د ترياکو قاچاق په ۲۰۲۲ کال کې پر نشه اي توکو له بنديز وروسته په چټکۍ سره راکم شوی دی. د هيروينو نيول د ۲۰۲۱ کال نيمايي کچې ته رسېږي. شاوخوا ۱۳۲۰۰ ټنه ترياک لا هم په هېواد کې پاتې دي چې تر ۲۰۲۶ کال پورې د نړيوالې تقاضا د پوره کولو لپاره کافي دي او تر ډېره د ترياکو د لويو قاچاق کوونکو لخوا ساتل شوي او زېرمه شوي دي. بزګرانو د ترياکو د نيولو زيانونه وګالل ځکه له کوکنارو څخه ترلاسه کېدونکی عايد د ۲۰۲۲ کال د ۱،۳۶ ميليارده ډالرو څخه په ۲۰۲۳ کال کې ۱۱۰ ميليونه ډالرو په راکمېدو سره ۹۲ سلنه راټيټ شوی دی. د ترياکو شديد کمښت يې لوړې کړې، چې د پاتې نشه اي توکو قاچاق ورته زيات ګټور تمامېږي. د دې برعکس، د ميتاپيتامين اندازه د ۲۰۲۱ کال په پرتله ۷۵ سلنه زياته شوې ده. دا راپور د نشه اي توکو د بديل په رامنځته کولو او روغتيايي مرستو تدابيرو په ګډون، د پاليسۍ په برخه کې سپارښتنې هم وړاندې کوي.

۶۶.	د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفترد فبرورۍ ۱۵ نېټې څخه تر اپريل ۳۰ نېټې پورې په نهو ولايتونو کې له ۲۴۷۲ کورنيو سره (۳۰ سلنه هغه کورنۍ چې مشري يې ښځې کوي) د کرنې په برخه کې، په ځانګړې توګه د کرنيزو موادو لکه تخمونو او روزنې مرسته کړې او په دوو زندارنونو کې يې د ښځو لپاره د درملنې، تداوۍ او د مسلکي روزنيزو مرکزونو او روغتيايي خدمتونو د هېواد په کچه ملي شبکې سره مرسته کړې ده. د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د راپور ورکونې مودې پر مهال، د بديل معيشت په برخه کې له ۳۰۰۰ څخه زياتو خلکو ته مرستې رسولې دي.

۶۷.	يوناما، د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر او د ملګرو ملتونو اړوندو ادارو لخوا د نشه اي توکو سره د مبارزې کاري ډلې په چوکاټ کې له واکمنو چارواکو، غړو هېوادونو او تخنيکي متخصصينو سره ګډ کار لا هم دوام لري، چې په ترڅ کې يې د بديل معيشت ګډ کاري پلان پلي کولو هڅې او د نشه اي توکو د کارونې مخنيوي او د معتادينو درملنې او قانون حاکميت کوچنيو ډلو کارونه زيات شوي دي.

**اووم: د ماموريت ملاتړ**

۶۸.	د ۲۰۲۵ کال تر اپريل ۳۰ نېټې پورې په يوناما کې د نړيوالو کارکوونکو لپاره د تشو بستونو کچه ۱۷ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړيوالو رضاکارانو لپاره ۸ سلنه، د ملګرو ملتونو د داخلي رضاکارانو لپاره ۱۱ سلنه، د ملي مسلکي افيسرانو لپاره ۱۶ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۲ سلنه وه، چې د دې په پرتله په ترتيب سره تائيد شوې کچه ۸،۳ سلنه، ۹،۳ سلنه، ۵ سلنه، ۱۵،۵ سلنه او ۱۱،۲ سلنه ښودل شوې ده. د ښځينه کارکوونکو نسبت د نړيوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۳۶ سلنه، د ملي مسلکي افيسرانو لپاره ۹ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۱ سلنه دی.

**اتم: مشاهدې**

۶۹.	د افغانستان خلک لا هم له ګڼ شمېر ننګونو لکه؛ پراخه او زياتېدونکې بېوزلي، دوامداره بې کاري، اساسي خدمتونو ته محدود لاسرسی او دوامداره طبيعي پېښو سره مخ دي، چې د واکمنو چارواکو د حکومتي ادارو لخوا چې لا هم ټولشموله ندي او ظالمانه چلند يې نور هم په زياتېدو دی، نورې هم زياتې شوي دي. د واکمنو چارواکو لخوا د محدودونکو پاليسيو او کړنو د سخت تطبيق دوام، په ځانګړي توګه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون له امله، د افغانانو او په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو پر اقتصادي، ټولنيز او شخصي ژوند منفي اغيزه کړې ده. د نړيوالو مالي مرستو کموالي په ټول هيواد کې د

میلیونونو افغانانو او د هغوی د کورنیو ناوړه اقتصادي وضعیت لا پسې خراب کړی دی او د افغانستان خلک نشي کولی په یوازې ځان له دې سختو ننګونو سره مبارزه وکړي.

۷۰.	د امنیت شورا د ۲۷۲۱ ګڼه (۲۰۲۳) پریکړه لیک بیان شوي هدف په ملاتړ چې موخه یې یو سوله ایز او له خپلو ګاونډیانو سره په سوله کې افغانستان، په بشپړه توګه د نړیوالې ټولنې سره یوځای کیدل او د نړیوالو مکلفیتونو پوره کول دي، او د یادې شورا لخوا د تعامل جوړښت او سیاسي لارې نقشې پر اهمیت باندې ټینګار ته په پام سره، ملګرو ملتونو د ټولو ښکیلو اړخونو - د افغانانو، واکمنو چارواکو او نړیوالې ټولنې - ګټو او اندیښنو ته د رسیدو لپاره د سیاسي لارې په لور کار ته دوام ورکړی. پر اصولو ولاړ تعامل له لارې، د نشه اي توکو سره د مبارزې او خصوصي سکتور دوه کاري ډلې د افغانانو د ژوند سره تړاو لرونکو خورا مهمو ستونزو ته رسېدنه کوي. د نړیوالې ټولنې، واکمنو چارواکو او افغانانو ترمنځ به ډېر تعامل ته اړتیا وي څو هغه پیچلې ستونزې په جامع ډول حل کړي چې د افغانستان د اوسني وضعیت او نړیوالې ټولنې سره د هغې د احتمالي بیا یوځای کیدو ترمنځ پرتې دي، چې تر ټولو لومړی یې د ښځو د حقون په ګډون، بشري حقونه دي. د دغو ستونزو د حل لپاره د ښکیلو اړخونو د بیلابیلو ډلو اجماع ته اړتیا ده، چې دا ستونزې له یو بل سره تړلې او په دې برخه کې پرمختګ به وخت ونیسي. په دغو مسایلو کې د نړیوالو مکلفیتونو رعایتول چې د ملګرو ملتونو ټول غړي هیوادونه پرې مکلف دي، هم شامل دي.

۷۱.	د واکمنو چارواکو لخوا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون تطبیق خلک د ګڼ شمېر بیلابیلو بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو لکه؛ د ګرځېدو ازادي، بیان ازادي، د دین ازادي او شخصي حریم خوندیتوب حق څخه محروم کړي دي. دغه قانون او د هغې تطبیق، له نړیوال سیستم سره د افغانستان د بشپړ ادغام او بیا یو ځای کېدو پر وړاندې اساسي خنډونه جوړوي.

۷۲.	افغانستان په نړۍ کې یوازینی هیواد دی چې نجونې په سیستماتیک ډول د ثانوي او لوړو زده کړو څخه منع شوي دي. زده کړې ته لاسرسی یو اړین حق دی چې د ډیرو نورو حقونو د تحقق بنسټ جوړوي. زه یو ځل بیا له واکمنو چارواکو څخه غوښتنه کوم چې د زده کړې په ټولو سطحو کې د ښځو او نجونو د ممانعت ټولې پریکړې لغوه کړي.

۷۳.	زه د سیاسي برنامو پر خپرولو د واکمنو چارواکو د بندیز په اړه اندیښمن یم، چې دا چاره د رسنیو ازادي نوره هم کمزورې کوي. سیاسي بحثونه عامه پالیسۍ بډایه کوي او د ښې حکومتولۍ لپاره اړین دي. دا د ژورې اندېښنې وړ ده چې خبریالان او د رسنیو کارکوونکي لاهم په خپل سري توګه نیول کېږي او تر توقیف لاندې نیول کېږي.

۷۴.	د پخواني حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو د غیرقانوني وژنو، خپل سري نیولو او توقیفونو او شکنجه کولو او ناوړه چلند دوامداره راپورونه په ژوره توګه ځورونکي دي. واکمنو چارواکو د واک ترلاسه کولو سره د عمومي بښنې په کولو سره، باید د دې ډلو د خوندیتوب ډاډمنولو او د مجرمینو سره د حساب کولو لپاره د بشپړو او شفافو تحقیقاتو په ترسره کولو د ژوند حق د خوندیتوب لپاره خپلې ژمنې او مکلفیتونه پوره کړي.

۷۵.	زه په عام محضر کې د ترسره شوو اعدامونو له کبله چې د اپریل په ۱۱ نېټه ترسره شول، اندېښمن یم. د بشري حقونو کمیټې، د ژوند د حق په اړه په خپله ۳۶ (۲۰۱۸) عمومي تبصره کې، د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د شپږمې مادې په تړاو، چې افغانستان یې غړی دی، یادونه وکړه چې هغه هیوادونه چې د مرګ سزا یې لغوه کړې نه ده باید د میثاق د اوومې مادې درناوی وکړي، چې له مخې یې د اعدام ځینې طریقې منع دي. د اوومې مادې نه رعایت په اصل کې د اعدام د خپل سري ګرځېدو لامل کېږي او په دې توګه له شپږمې مادې څخه سرغړونه هم ده. کمیټې نظر ورکړی چې عامه اعدامونه د اوومې مادې سره په ټکر کې دي. زه په ټینګار سره له واکمنو چارواکو غوښتنه کوم چې د دې چارې د لغوه کولو په نیت، پر اعدامونو ژر او سملاسي بندیز ولګوي.

۷۶. زه له ټولو خواوو څخه غوښتنه کوم چې، د نړیوال بشردوستانه قانون په ګډون، د نړیوال قانون پر بنسټ خپل مکلفیتونه پوره کړي، او په ځانګړي توګه ملکي وګړو ته درناوی او ترې ساتنه وکړي.

۷۷. د مالي تمویل اوسنی - چې د بشري بسپنه ورکوونکو لخوا د بشري بودیجې د لغوه کولو او کمولو له امله رامنځته شوی - په افغانستان کې د مرستو د شریکانو لپاره د پام وړ مالي او عملیاتي ناخرګندتیا رامنځته کړې ده. په ۲۰۲۵ کال کې به څو میلیونه خلک د کافي بودیجې نشتون له امله لړې مرستې ترلاسه کړي. بشري همکارو شریکانو په ډاګه کړې چې دوی به په افغانستان کې د ښځو او نجونو اړتیاوو په نښه کولو لپاره کمې پروژې ترسره کړي. د ماین پاکۍ هڅو او د پوهاوي لوړولو لپاره د مرستو په او ملاتړ په نشتون کې به، په دردمنه توګه د ژوند له لاسه ورکول، تلپاتې او دوامداره ټپونه او صدمه، چې تر ډېره د ناچاودو توکو له امله ماشومان زیانمنوي، دوام ومومي. زه له ټولو بسپنه ورکوونکو څخه غوښتنه کوم چې د تمویل د یادو ننګونو سره د مبارزې لپاره، خپل مالي ملاتړ زیات کړي یا هغه تمویل ته لومړیتوب ورکړي چې انعطاف منونکی، د وړاندوینې وړ او پایداره وي، ترڅو د ژوند ژغورنې اړینې او بشري چارې او د انعطاف رامنځته کول دوام ومومي. زه په بسپنه ورکوونکو هیوادونو غږ کوم څو د جولای په لومړۍ نېټه د ماین پاکۍ پروګرام د پای ته رسیدو مخنیوي لپاره، د ملګرو ملتونو د ماین پاکولو همغږۍ لپاره مالي ملاتړ چمتو کړي.

۷۸. زه د افغان کډوالو کوربه هېوادونه هڅوم څو خپل ملاتړ ته دوام ورکړي او اړمنو کسانو ته مناسب اسناد ورکړي او د خپلو نړیوالو مکلفیتونو سره سم عمل وکړي، څو ډاډ ترلاسه شي چې افغانستان ته هر ډول راستنیدنه په خپله خوښه، خوندي او باعزته توګه وي، او د دې کار ترسره کولو لپاره دوه اړخیزه او درې اړخیزه بحثونو ته لا هم دوام ورکړي. زه د راستنیدونکو کډوالو د مخ په زیاتیدونکي شمیر سره د مرستې لپاره د ظرفیتونو لوړولو او له خپلو ټولنو سره د دوی دوامداره بیا یو ځای کېدو پر وړاندې شته ننګونو له امله اندیښمن یم. راستنیدونکي کډوال په افغانستان کې له خپلو ټولنو سره د بیا یوځای کیدو، په ځانګړې توګه د سرپناه، کارموندنې او اساسي خدماتو ته د لاسرسي خوندي کولو په برخو کې له سترو ننګونو سره مخ دي. زه له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوم چې په افغانستان کې د جذب ظرفیتونو د لوړولو هڅو ملاتړ وکړي څو د لا زیاتې بې ثباتۍ او احتمالي بېرته تللو خطرونه راکم شي.

۷۹. په افغانستان کې د بشردوستانه او اساسي انساني اړتیاوو په پوره کولو او په دې هېواد کې پایداره ثبات ته د رسېدو لپاره د ټولو ښکیلو اړخونو یوځای کولو په موخه د سیاسي بهیر پر مخ وړلو کې د ملګرو ملتونو حضور او ښکیلتیا خورا مهمه ده. زه په افغانستان کې زما د ځانګړې استازې، روزا اوتونبایوا تر مشرۍ لاندې، د ملګرو ملتونو له ټولو کارکوونکو او همکارو غیر دولتي مؤسسو څخه په افغانستان کې په یو خورا ننګوونکي چاپیریال کې د پیاوړي عزم په درلودلو سره د افغانستان خلکو ته د دوامداره خدمت له کبله د زړه له تله مننه کوم.